# Critical Analysis of Pashto Manuscript Catalogues

Abdul Rahman Habibzui [1] [2]

**Abstract**: The initial works on Pashto manuscripts catalogues has been taken by the Orientalists. In the 19th century, such catalogues in Pashto have been introduced along with many other languages in Europe. Consequently, the 20th century Europe saw the production of catalogue making using a systematic approach. In 1905, James Blumhardt was the first person to write a Pashto manuscripts catalogue for British libraries. In this manuscript, we have introduced a comprehensive collection of eighteen Pashto Manuscript catalogues and analyse their impact on research and other scholarly works.

**Keywords**: Pashto Catalogues

د پښتو خطي نسخو یا مخطوطاتو په فهرست لیکنه کښې لومړني ګامونه انګریزانو اخیستي دي، لکه څنګه دوي د نورو ژبو په اړه لومړني محققین دي. په ۱۹ پېړۍ کښې د لومړي ځل لپاره د پښتو خطي اثارو فهرست د اروپا په کتابتونونو کښې د نورو ژبو موجوده خطي نسخو په لړکښې معرفي شویدي [1] خو په منظم ډول د ۲۰ مې پېړۍ په پیل کښې په اروپا کښې پرخطي نسخو کارپیل شو. د لومړي ځل له پاره جمیز فیلډ بلومهارټ په ۱۹۰۵ء کال کښې د برټش موزیم د پښتو خطي نسخو فهرست جوړکړے دے [2, pp87].

د دې له پاره چې د پښتو مخطوطاتو ټول کټلاګونه(فهرستونه) هر یو جلا جلا و څېړو،نو مونږه دا څېړنه په کرنولوجیکي بڼه پیل کړې ده،چې بیا هم ابتدا ئې له بلومهارټ څخه کوو.

## 1 د بلومهارټ فهرست

د برټش موزیم د کتابخانې د مرهټي، ګجراتي، بنګالي، رسامي، اوړیا، پښتو او سندهي مخطوطاتو فهرست دے. دغه اثر په ۱۹۰۵ء کال کښې په لندن کښې چاپ شوے دے. د دغه اثر خاوند نوم J.F.Bamhardt دے.

[1] Academy of Sciences, Kabul, Afghanistan
[2] a.habibzui@yahoo.com

دغه فهرست په ۱۳۳۷ لمریز کال کښې رازمحمد ویښ پښتو ته ژباړلے دے او هم دهمدې ژباړلي اثر په رڼا کښې پرې خبرې کوو. په دې فهرست کښې لاندې پښتو مخطوطاتو معرفي شوي دي:

نافع المسلمین، مخزن الاسلام، فوایدالشریعت، رشیدالبیان، تاریخ مرصع، شاهنامه احمد شاهي، تواریخ حافظ رحمت خاني، ریاض المحبت، عجائب اللغات، دارزاني دیوان، د میرزاخان دیوان، د خوشحال دیوان، د هجري دیوان، د عبدالقادر دیوان، رحمان بابا دیوان، درُ ومرجان، دیوان نجیب، دیوان احمدشاه، معجزات، دیوان شیدا، د کامگاردیوان، د افریدي دیوان، یوسف او زلیخا، ادم خان او درخانی، دلي او شهو،علم خانه دانش، نیرنګ عشق، ګلستان، قصه سیف الملوک، بهرام او ګلاندامه، عذرا وامق، غل او قاضي، د فتح خان قیصه او ضرب الامثال [3, pp87-163].

د دې فهرست په اړه ښاغلي څېړنپوه زلمے هېواد مل لیکي چې : د دې فهرست په ۱ مخ کښې راغلي چې د نافع المسلمین ناظم اخوند ګدا د درویزه پلار دے، دغه خبره سمه نه ده، نافع السملمین اخوند ګدا د احمد شاهي عصر دے ( ۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶هـ.ق ) شاعر دے او ګدا اخوند درویزه پلارد لسمې پېړۍ سړے دے. د فهرست په دویم مخ کښې پروفېسربلومهارت عبدالکریم او کریمداد دوه بیل بیل زامن ګڼي، چې دا دواړه نومونه دیو سړي دي. د فهرست په ۷ مخ کښې د رشیدالبیان د نظم کال ۱۱۶۹ ښودل شوے دے، چې دا ناسم دے او سمه ئې ۱۱۲۹هـ.ق دے. د فهرست په ۸ او ۱۷ مخونو کښې هجري د مړیني کال دے ۱۱۵۶ ښودل شوے دے، چې سم ئې ۱۱۶۶ دے. د فهرست ۱۳ مخ کښې د عجایب اللغات تکمیل ۱۳۲۸ هـ ق راغلے چې دا تاریخ د رامپور له تاریخ سره سمون نه لري د بلومهارت په فهرست کښې د ابولقاسم دیوان، د اکبر دیوان او د غلام محمد سیف الملوک مختصرې نسخې دي [2, pp288-289].

## 2 د بلوشه فهرست

د پاریس د ملي کتابخانې د خطي نسخو کوم فهرستونه، چې بلوشه جوړ کړي دي ؛ ددې فهرست په دوهم ټوک کښې د پښتو لاندې آثار یاد شوي دي :

د خوشحال دیوان، د رحمان دیوان دوې نسخې، د حمید دیوان، د شیدا دیوان، د سیف الملوک او د بدریجماله کیسه، د عبدالقادر یوسف زلیخا، د حمید مومند شاه ګدا، رشید البیان، د مخزن اسلام درې نسخې او همدا راز د پښتو فولکلوري قصو یوه مجموعه په اته ویشتو جلدونو کښې[2, pp290].

د دې نسخو په فهرست کښې د راغلو آثارو د ځینو مولفینو په باب څه شرحې هم د راوړتې په استناد ورکړې دے [2, pp1].

# 3 لباب المعارف العليه

دا فهرست مولوي عبدالرحيم په اردو ژبه تهيه کړے دے. په دې فهرست کښې د پېښور اسلاميه کالج د کتابخانې خطي نسخې معرفي شوي دي. دا فهرست په ۱۳۱۸ هـ ق کښې په اګره کښې چاپ شوے دے. د دې فهرست ليکنې ډول تشريحي دي، په دې فهرست کښې د (( قاسم علي افريدي کليات، د رحمان بابا ديوان، دعبدالرحيم هوتک کندهاري ديوان، د خوشحال رباعيات، د عبدالقادرخان خټک يوسف زلېخا، ګلشن اشعارافغاني د احمد جلا چي ديوان، ديوان شمس الفلک معرفي شوي دي[2, pp291].

# 4 پښتو مجلې فهرست

د پېښور پوهنتون پښتو اکېډمۍ پښتو مجلې په ۱۹۵۷-۵۸-۵۹-۶۱- او ۸۸ ميلادي کالونو کښې په ترتيب سره انوارالحق د پښتو مجلې په اپرېل،مې،جون او اکتوبر ګڼو کښې،همداشان د ۵۷-۵۸-۵۹کال په ګڼو کښې د «زمونږ قلمي نسخې» تر سرليک لاندې خطي نسخې معرفي کړي دي[4, pp107,108,116][5, pp122-146-136,126,127,143-128,133][6, pp139-142]. له دې وروسته په ۱۹۵۹ ز کښې مراد شينواري په ورته سرليک باندې د پښتو مجلې په جولاے،اګسټ او ستمبر او د همدې کال په ۱-۴ګڼه او اکتوبر،نومبر،دسامبر په ګڼو او د ۱۹۶۱ په ۱-۲-۳-۴ګڼو کښې ئې پښتو خطي نسخې معرفي کړي دي[7].همداشان په ۷۷- ۱۹۸۸ز کال کښې رحيم شاه د «زمونږ قلمي پنګه»تر سرليک لاندې د پښتو مجلې په ۱۰-۱۱-۱۲-۱ګڼو کښې پښتو قلمي نسخې راپېژندلي دي[8].په همدې کال کښې ښاغلي رحيم شاه رحيم د قاضي عبدالحليم اثر قلمي نسخې تر عنوان لاندې د پښتو مجلې په ۹-۱۰-۱۱-۱۲ ګڼو کښې پښتو خطي نسخې معرفي کړي دي[9].

د پښتو مجلې دا فهرست ليکنه له نړيوال نورم سره برابرې نه دي او همداشان جلاجلا او متفرقه خپرې شوې دي؛د فهرست ليکنې ډول ئې دوديز دي؛خو په ۱۹۵۷ز کال کې داسې هڅه او قيمتي موضوع باندې کار کول خپله يو ډول ابتکار او خلاقيت دي،چې په ستايلو ارزي.

# 5 بورکوي فهرست

بورکوي فرانسوي د افغانستان د ځينو کتابخانو خطي نسخې، يوه کتاب کښې معرفي کړې دي. دا کتاب (( افغانستان خطي نسخې )) نومېږي او په ۱۹۶۴ء کال په فرانسوي ژبه ليکل شوي او په قاهره کښې چاپ شوي دے )) [2, pp294].

# 6 Catalogue of Pashto Manuscripts in the library of the British Isles

دا فهرست د ډاکټر میکنزي D.N.Mackenzie لخوا په ۱۹۶۵ ء کال لیکل شوے دے او په افغانستان کښې د (( میکنزي فهرست )) په نامه شهرت لري.د ډاکټرمیکنزي د پښتو خطي نسخو د فهرست ژباړه داسې ده : (د بریټانیا د ټاپوګانو په کتابتونو کښې پښتو خطي نسخې)[10]. ډاکټرمیکنزي په دې فهرست کښې د بلوبهارت ټول فهرست ځاے په ځاے کړے دے[1].

همدا ډول په دې فهرست کښې لکه څنګه چې پرېښتي ئې لیکلي د انډیا افیس لایبریري، د بودلین کتابخانې د جان ویلاند لایبریري و د بلن ترنېټې کالج د کتابخانې، د کمیرچ پوهنتون د کتابخانې او د افریقایي او آسیایي تحقیقاتو د ښوونځي پښتو خطي نسخې رامعرفي کړې دي. په دې فهرست کښې 72 ډوله کتابونه او 196 مخطوطات رامعرفي کوي.

د ډاکټرمیکنزي فهرست په ۱۹۶۵ء کال کښې د عنایت الله مهرابي په نامه یو کس ښاغلي حبیب الله رفیع ته په قلمي بڼه پښتو ته ژباړلے دے هم شته، چې قدرمن رفیع صاحب دغه ژباړه زما په واک کښې هم راکړه همدا ډول په دې وروستیو کښې شهسوار سنګروال چې لندن میشتي افغان شاعر دے د ((بریټانیا کتابتونونو کښې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه )) ترنامه لاندې په فهرست لیکلے.

د ډاکټر میکنزي فهرست کښې د کتاب ځانګړنې په متوسط شکل ترتیب شوي،خو د نسخو په اړه ئې کافي څېړنې کړې او د نسخو د لیکوالو په اړه ئې په تعلیقاتو کښې ډېر ګټور موارد وړاندې کړې دي؛ډاکټر میکنزي د خپلو څېړنو د اثبات لپاره د افغانستان او نړۍ مستشرقینو له آثارو څخه بشپړه ګټه اخیستې ده او مونږ د یوه پښتون محقق په توګه بویه چې په دغه کتاب کښې د ده د لېوالتیا او پښتو ادب سره د مینې له امله مننه کوو.

# 7 رښتین فهرست

پوهاند صدیق الله رښتین په ۱۹۶۰ زکالونو کښې هندوستان ته تللے او هلته ئې د رامپور رضا کتابخانه ډیلي موزیم او بنګال یو لړخطي نسخې معرفي کړې دي، چې دا فهرست په ۱۹۹۴ء کال کښې د کابل مجلې په مې او جون، جولاي، اګست، دسمبر، نومبراو دسمبر ګڼو کښې خپورشوي دي[11].

همدا ډول رښتین صاحب د پښتو خطي نسخو یو بل فهرست ترتیب کړے او دا فهرست د هېواد ورځپاڼې ۱۳۴۶ کال ۱۴مه ګڼه کښې خپور شوے دے[12].

# 8 د پښتو ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پېژندنه

نوموړې فهرست په ۱۳۵۴هجري شمسي کال کښې د کابل پوهنتون د کتابتون آمرینو هریومحمدابراهیم ستوده او عبدالرحمن ترتیب کړې دے. په دې فهرست کښې د کابل پوهنتون د پښتو ټولنې او د رفیع صاحب د شخصي کتابتونونو ۱۰۸ پښتو خطي نسخې معرفي شوي دي یاد اثرپه ګستسنر شکل د کابل پوهنتون د نشراتو لخوا خپور شوے دے.

دا فهرست د الف بې په ډول مرتب شوے نه دے،بلکې په موضوعي لحاظ ویشل شوے دے او همد ډول نوموړے فهرست خپل کار ډول په مختصر شکل بیان کړے دے[13].

# 9 د کوشیف فهرست

د دې اثر بشپړ نوم دے ((لینګراد د ختیځ پوهنې په انستیتیوټ کښې پښتو خطي نسخې)) دا فهرست پروفېسر ولادیمرواسیلوویچ کوشیف جوړکړے دے او په ۱۹۷۶ء کښې په ماسکو کښې چاپ شوے دے ؛ددې فهرست طریقه کارتشریحي دے[2, pp299].

# 10 رفیع فهرست

ښاغلي خېړنوال استاد حبیب الله رفیع د خپلو نورو ګټورو علمي کارونو ترڅنګ د مخطوطاتو په برخه کښې بې تفاوته نه دے پاتې شوے او آن د کډوالۍ په سختو شپو ورځو کښې دغه ستر کار ته لاسونه بډوهلي دي، ښاغلي رفیع د افغانستان د ملي آرشیف د سیال کاکړ او د پښتو اکیډمۍ پېښور پوهنتون مخطوطات فهرست کړي دي.

د رفیع صاحب په وینا په پېښور پوهنتون کښې یوه خطي نسخه په دوه پاکستاني کلدارو خېرله او معرفي کوله، سره له دې چې هماغه مهال هغه ډول قلم په لاس او مخورو شخصیتونوته به په پاکستان کښې له هرې خوا یو ډول کمکي معاش ورکول کېده، خو نوموړي هغو کمکي پیسو ته غاړه کښېښودوه او خپل ملي او ادبي مسؤلیت هم هلته ترسره کړه[14].

د ښاغلي رفیع صاحب د مخطوطاتو د فهرست کوونې دالړی به د پښتو مجلې (۸۷- ۱۹۸۸ : ۴-۵-۶-۷-۸ګڼو کښې خپریدي.رفیع صاحب د پښتو مجلو په یادو ګڼو کښې د پښتو اکیډمۍ یو لړ قلمي نسخې معرفي کړي دي؛دا پېژندنه او فهرست لیکنه ډېره لنډه ده،چې یوازې د کټلاک او معلوماتي کڅوړې بڼه لري[15].

رفیع صاحب، چې دا مهال زمونږ همکار او مشر استاد دي او په یوې اداري کښې سره کارکوو اوس هم په خطي نسخو لګیادے کارکوي او دا ئې ویژن دے، چې د ټولې نړۍ په کچه د پښتو مخطوطاتو فهرست جوړکړي او دم ګړی ددې کارلومړے ټوک ئې په ۱۰۰۰ مخونه ترتیب کړے او په دویم ټوک ئې هم کار دوام لري.

## 11 د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې

دا تشریحي کتلاک یا فهرست د ښاغلي څېړنپوه زلمي هېوادمل اثر دے، چې په ۱۳۶۳ل کال کښې د افغانستان د علومو اکاډمي ژبو او ادبیاتو مرکزلخوا خپور شوے دے.یاد فهرست ۳۰۸ مخونه لري او ۷۹ پښتو خطي نسخې ئې معرفي کړي.دا نسخې ئې د هندوستان له ډيلي موزيم، علي ګړھ مسلم يونيورسټي، مولانا ابوالکلام آزادلايبريري (رامپور ).لکنهوسټيټ ارکائيوز، خدا بخش پبليک لابيرېري ( پټنه ) بنګال اشيياټک سوسايټي، ويکټوريا ميموريال ( کلکته ) کلکته نېشنل لايبريري، سالارجنګ موزيم (حيدرآباد) مجلس احيايي المعارف نعمانيه ( دکن ) اورنټيل مانسکريټ لايبريري (اندهراپرديش )، انډين انسټيټيوټ آف اسلامک سټډيز ( تغلق آباد ) ډيلي يونيورسټي لايبريري، عربک اينډپرشين ريسرچ انسټيټيوټ ( ټونک ) او نورو کتابونو څخه ترلاسه شوي دي[16].

په دې فهرست کښې له متوسط طريقه کارنه استفاده شوې، خو په تشريحي برخه کښې مقايسوي او تنقيدي کتنې هم لري، چې ددې فهرست په علمي غنامندي باندې ئې ډيرزيات اغيز کړے دے.

## 12 د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع

دا فهرست په تاشکند، دوشنبې، ايراوان، مسکواو لينګراد په کتابخانو کښې د پښتو خطي نسخو دے. د دې فهرست ليکوال او مرتب کوونکے استاد زلمے هېوادمل دے، چې په ۱۳۶۶ لمريزکال کښې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز پښتو ټولنې لخوا خپورشوے دے. په دې فهرست کښې ۳۹ پښتو مخطوطات په متوسط شکل فهرست شوي اوتسلسل ئې موضوعي دے[17].

د يادونې وړ بولم، چې ووايم استاد هېوادمل په پښتوڅېړونکو کښې کمسارے څېړونکے دے، چې د متنپوهنې او مخطوطاتو په اړه ژوره مطالعه او کاري مخينه لري او ده چې کوم فهرستونه جوړکړي دا يوازې فهرستونه نه دي، بلکې پراخ تحقيقي او تنقيدي اړخونه لري چې په مقايسوي شکل په فهرست کښې ورته کتنه کړې ده ؛په ځانګړې توګه د استاد زلمي هېوادمل په ټولو فهرستونو کښې لمنليکونه له خوراتحقيقي مطالبو څخه مالامال دي، چې د کتاب پېژندنې اصالت ئې د مستندو دلايلوپه رڼاکښې څېړلي دي.

همدا ډول قدرمن استاد هېوادمل صاحب راته ووېل، چې نوموړي د المان او فرانسې د کتابونو پښتو خطي نسخې راټولې کړي او په نږدې راتلونکې کښې به ئې چاپ کړي[18].

## 13 فهرست نسخ خطي پشتو آرشيف ملي افغانستان

د دې فهرست ترتيب کوونکے عبدالقديرمشتري حيدري نجرابي دے. په دې فهرست کښې د افغانستان د ملي آرشيف مخطوطات په لنډه توګه معرفي کړي دي . په دې فهرست کښې ۲۱۵ پښتومخطوطې معرفي شوې دي .دا فهرست د الف با په رديف ترتيب شوے دے[19] .

دا مهال په ملي آرشيف کښې يو ډېرتکړه کتابدار ښاغلے عبدالرشيد عثمان لګيا دے او د دغه فهرست په دوهم ټوک کارکوي، چې تراوسه ئې ۵۰۰ خطي نسخې ورزياتې کړي دي.

## 14 فهرست الفباي نسخه هاے خطي کتابخانه ګنج بخش

دغه فهرست په اسلام آباد کښې د ((پاکستان او ايران د فارسي تحقيقاتو مرکز )) لخوا مرتب شوے او په ۲۰۰۵ کال خپور شوے هم دے . د دې فهرست ترتيب کوونکے ډاکټر محمد حسين تسبيحي دے .

په دې فهرست کښې د الف بې په رديف ۱۳۹۸۷ فارسي، ۷۳۴۵ عربي، ۲۰۳۷ فارسي عربي، ۶۱۳پنجابي، ۳۱۰پښتو، ۲۲۹اردو، ۷۷فارسي او پښتو، ۴۵عربي او پښتو، ۴۴ فارسي او پنجابي، ۴۲فارسي او اردو، ۴۱ترکي، ۲۳عربي فارسي پښتو ۱۹عربي او پنجابي، ۱۹ عربي فارسي او اردو، ۱۹هندي، ۱۵عربي اردو، ۱۵سندي ۹عربي فارسي او پنجابي، ۵بلتي، ۴فارسي او هندي، ۴ فارسي و عربي او ترکي، ۳اردو او پنجابي، ۲ هندي او اردو، ۲بلتي او اردو، ۲اردو او پښتو، ۲ فارسي او ترکي، ۲ عربي او ترکي، ۱ عربي او هندي، ا پنجابي فارسي او اردو، ۱ فارسي او افغاني ( د دوي په وينا )، ۱ فارسي او سانسکريټ، ۱سرايکي، ۱ سانسکريټ، ۱ عربي فارسي او اردو، ۱ پنجابي اردو عربي، ا اردو فارسي او پنجابي، ا پشتو او پنجابي، ۱ لهجه شيرازي نسخې دي[20] .

په دې توګه په دې فهرست ټولټال ۴۵۹ پښتو مخطوطې فهرست شوې دي، چې دا شمېرناسم دے، ځکه په دوو کښې ډېرې داسې نسخې دي، چې ليک ئې نسخ دے او مدون هغه په پښتو کښې شمېرلي دي، ډېرې پنډک داره او آن زور او زيروالاليکدود ئې په پښتو کښې حساب کړي دي پردې بنسټ مدون ځينې سندهي، مراټي، سرائيکي، عربي او پنجابي او آن کله کله د نوم له مخې ئې قضاوت کړے او د پښتو په ډله کښې ئې شمېرلې دي، لکه د فرهنګ شيرشاهي نسخه چې د پښتو په ډله کښې راغلې او ترتيب کوونکي فکر کړے، چې دا به د شيرشاه سوري د عصر اثر دے، نو پښتو به وي، په داسې حال کښې چې دا اثر پښتو نه فارسي دے.

ماچې دا فهرست ولوسته او د پښتو برخې هرکتاب مې جنساً مطالعه او څېړنه پرې وکړه، نو د دې فهرست پښتو مخطوطات د ۳۵۰نسخو په شاوخوا کښې دي . په دې فهرست کښې په لسګونه داسې نسخې دي، چې د نړۍ د پښتو ژبې د مخطوطاتو په فهرست کښې نشته بلکې بکرې نسخې دي لکه د عارف لاهوري او يولړ نورې نسخې، چې تردې مهاله هيچرې نه دې

ترسترګو شوې یا هم داسې نسخې په کښې دي، چې دلته ئې دويمه ترلاسه شوې لکه د قلندر د دیوان دويمه نسخه یا د حضرت شاه دويمه نسخه، چې لومړنۍ هغه ئې پخوا وې، خو دا ئې دويمې دي، چې محقق ته د پلټنې له پاره ډېرڅه په لاس ورکوي

ددې فهرست پښتو برخه کښې نادرې نسخې هم شته لکه د عارف لاهوري ديوان دنورالدين کابلي کليات او ډېرنورې، همدا شان په دې فهرست کښې داسې نسخې شته، چې دا ئې دويمه ده لکه د قلندر ديوان او داسې نور.

د ښاغلي تسبيحي دا فهرست د الف بې پرترتيب اوډل شوے دے او په لنډه توګه ئې نسخې معرفي کړې دي.

## 15 قائد اعظم بوهنتون (پاکستان) فهرست

د دې فهرست ترتیب کوونکي زما خوږ ملګرے او د اسلام آباد د قائداعظم پوهنتون استاد حنيف خليل دے.دا فهرست په ۲۰۰۹ کال د قائد اعظم د پوهنتون د پاکستاني مطالعاتو د ملي انسټيټيوټ لخوا خپور شوے دے.

دا فهرست په انګريزي ژبه دے او په متوسط بڼه ئې ۱۹۶پښتو مخطوطات معرفي کړې دي[21] او دا مخطوطات د پاکستان د بېلابېلو کتابتونونو څخه نوموړي فهرست کړې دي. د دې فهرست ډلبندي په موضوعي لحاظ ترسره شوې ده. د ښاغلي حنيف خليل د فهرست سريزه ډېره علمي اوتحقيقي ده او د قلمي نسخو خصوصاً پښتو نسخو لنډې تاريخچې ته ژور ننوتے دے، خو سره له دې دومره لوړکار او پرکتابتونونو ګرځېدو بيا هم د ښاغلي حنيف خليل پام د (( داتا ګنج بخش )) کتابتون پښتو خطي نسخو ته نه دے شوے او آن د دې بډايه پښتو مخطوطاتو او د دې کتابخانې ذکرئې هم نه دے کړے.

## 16 د څېړنپوه زلمي هېوادمل د کتابتون چور شوي قلمي نسخې

د ګران استاد زلمي هېواد مل د کتابتون د خطي نسخو داستان ډېر اوږد دے،يوائې به دلته د دې نسخو په اړه لنډ معلومات وړاندې کړم؛دا نسخې اوس ورکې دي،خو تش نومونه ئې شته دي.د هېوادمل صاحب فهرست کړې نسخې چې د ده د خپل کتابتون وې ۲۳۸نسخې دي،چې ويش ئې په موضوعي لحاظ سره شوے دے؛په دې معنی چې لومړے ئې تفسيرونه،احاديث،سيرت النبي او تجويدونه دويمه برخه کښې ديني او فقهي کتابونه،درېيم هغه کښې ئې ديوانونه او د اشعارو دفترونه څلورمه برخه کښې ئې جونګې او مجموعې،پنځم هغه کښې ئې حکايتي آثار،شپږمه برخه کښې معاصر ادبيات،اوومه برخه خطبې،مناقب،معجزات،مناجاتونه،دعاګانې او درودونه،اتم هغه کښې ئې تاريخي،د عسکري قواعدو او بوليو کتابونه،نهم کښې حواشي،شروح،طبي،ژبني او درسي کتابونه لسم کښې ئې ناڅرګند آثار او وروستي برخه کښې ضابطې او ترکيبونه معرفي

کړي دي.

د هېوادمل صاحب دا فهرست ليکنه مختصره ده،خو ډېر غني فهرست دے،چې له بده مرغه اوس ورک دے[22].

## 17 فهرست مخطوطات

دا فهرست د پېښور پوهنتون پښتو اکيډمي د کتابتون خطي نسخو ټولګه ده، چې عارف نسيم او عبدالحميد ترتيب کړې ده، ياد فهرست په ۲۰۱۱ ز کال د پښتو اکيډيمۍ لخوا خپور او جدون پرنټنګ پريس کښې چاپ شوے دے.

په دې فهرست د الف بې په رديف ۱۵۰۰ مخطوطات فهرست شوي دي، دا مخطوطات د پښتو، عربي، فارسي، اردو،انګريزي، پنجابي، هندکو ژبو دي[23] .

د دې فهرست د کار شيوه ډيره ساده او لنډه ده ؛هېڅ تشريحي او تحقيقي موارد نه لري.په دې فهرست د پښتو کافي مخطوطې شته دي.

## 18 د برېټانيا په کتابتونو کښې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه

دا فهرست په ۲۲۲ مخونه کښې په ۲۰۰۷ ز کال د افغان ادبي جرګه ـ لندن لخوا خپور او چاپ شوے دے. د دې فهرست مولف ښاغلے شهسوار سنګروال نيازے دي. په دې فهرست کښې شاوخوا ۸۵ پښتو خطي نسخې معرفي شوي دي.

دا فهرست په موضوعي لحاظ ډلبندي شوے او د معرفی بڼه ئې متوسط تشريحي دے[24].

پر دې فهرست دا تور پورې دے، چې ياد فهرست د ميکنزي د فهرست ژباړه ده او د سنګروال خپل اثر نه دے، بلکې يواځې ژباړن ئې دے . اوس به مونږ د ميکنري او د سنګروال د فهرست مقايسه وکړو. لکه څنګه چې سنګروال ادعا کوي،چې نوموړے د برېټانيا په کتابتونونو کښې پښتو خطي نسخې جنساً تر مطالعې لاندې نيولي[24, pp1-2] ،خو د ښاغلي سنګروال او ډاکټر ميکنزي د کتلاک شکلي بڼې هيڅ توپير نه لري،د دواړو کتلاکونو څېرکي په موضوعي لحاظ ويشل شوي او موضوعات ئې پرته له کوم متني توپيره او آن د دواړو کتلاکونه د الف-ب په رديف سره هم ورته دي .دويم کوم معلومات چې ميکنزي په خپلو حاشيو کښې راوړي،سنګروال هماغه معلومات د نسخو د ناظمانو په پېژنده کښې کارولي دي؛درېيم دا چې خپله سنګروال د خپل کتاب په ۵۲مخ کښې د بابوجان په اړه وايي :«دقلمينسخوکتلاک۲۸مخ کښې راغلي،چې د قلمي نسخې دغه ټوک د احمدشاه دراني د واکمنې په مهال ليکل شوے دے».همدغه متن د ميکنزي په فهرست کښې هم راغلے خو سنګروال د ميکنزي د کتاب يادونه نه ده کړې،بلکه دا چې نوموړے په هره معرفي کښې تر خپلې څېړنې مخکښې د کتلاکونو په استناد خبرې کوي،دا

د دې ښکارندوي کوي،چې نوموړي دا نسخې جنسا نه دې کتلي بلکې هماغه د میکنزي هغه ئې پښتو کړې دے.

# 19 د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو تحلیلي څېړنه

د دې فهرست مرتب کوونکے د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو د مرکز علمي غړے څېړنیار شریف الله دوست دے. دا فهرست د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکزعلمي پروژه ده، چې لیکوال علمي رتبې د اخیستو لپاره کښلې ده.

دا نسخه په ۱۳۹۷ لمریز کال لیکل شوې او په دې نسخې کښې ئې د افغانستان د علومو اکاډمي خطي نسخې په متوسط ډول فهرست کړي او په تشریحي توګه ورباندې مباحث لري . په دې فهرست کښې ټولټال ۲۸۰ خطي نسخې معرفي شوي، چې په دو کښې ۳۲ نسخې تفسیرونه و حدیثونه، سیرتونه او تجویدونه دي، ۸۵ فقهي او تصوفي نسخې دي، ۴۶ دېوانونه او منتخبات، ۲۵ حکایتي اثار ، ۴۰ مختلفو موضوعاتو په اړه مجموعې دي، ۵۱ ژبني، تاریخي او علمي اثار دي.د اصالت له مخې د خوشحال خان خټک ۱۲۷ نمبر نسخه د خوشحال خانتر ټولو زړه نسخه ده، چې خوشحال بابا په خپل لاس په ۱۰۹۹ کښې کښلې ده او تر ټولو زړه نسخه د میرزا خان انصاري وه، چې په ۱۰۸۳ هـ.ق کښې کښل شوې ده [25].

په دې فهرست کښې د نسخو معرفي په موضوعي لحاظ شوې ده او همداشان په ځینو نسخو او د نسخو په شکلي جوړښت او هنري اړخونو باندې څېړنه هم شوې ده.

# 20 پایله

د نړۍ د ټولو ژبو فرهنګي میراث په مخطوطاتو کښې ثبت دي، پښتو خطي نسخو کښې هم ډېر داسې مسایل شته چې، محققانو ته ئې ډېرځه ورکړي دي او وربه ئې کړي.

محظوطات تیت دي او د عامه انظارو له لیدو څخه پټ دي ؛په دې برخه کښې علمي موسساتو ته بویه، چې دا ارزښتناکه آثار بشریت ته معرفي کړي، څو بشریت له دې ورثې څخه باخبره شي. ددې نسخو په اړه تحقیق، تنقید او پلټنه وشي چې دا چاره په خپله علم ته سترخدمت دے او په راتلونکي کښې محققانو ته د تحقیق لارې پرانیزي .د مخطوطاتو د فهرست لیکنې او څېړنې په پایله کښې بشریت ته یوه پیاوړې علمي ذخیره په لاس ورځي .

د بېلګې په توګه کېدے شي د مخطوطاتو پلټنې په لړکښې داسې نسخې په لاس راشي چې همدائي لومړنۍ وي او یوائې یوه نسخه ئې په نړۍ کښې وي او یاهم زمونږ د موندنې هغه ئې دویمه او آن کله کله کېدے شي، چې په علمي، تاریخي او فرهنګي برخه کې د خطي نسخو

له لارې یوه نوې علمي پنځونه او یو نوے تحول مېنځ ته راشي، چې مونږ ئې په تاریخي ادبي تحقیقاتو کښې ئې بیلګې هم لرو.

د خطي نسخو د معرفی په برخه کښې د یوه ملت هنري او ادبي، تاریخي هویت راڅرګندېږي. د فهرست لیکنې په لړکښې د علومو د پیدایښت، تدوین او تکامل په تاریخي ارزښت پوهه ترلاسه کېږي او دا لړۍ له مونږ سره مرسته کوي، چې د دغو علومو په ډلبندی، تدوین او تاریخ ټاکلوکښې سم قضاوت وکړو.له فهرستونو څخه په استفادې څېړونکي د منابعو او ماخذونو په پېژندنه کښې اسانتیا ترلاسه کوي او کولے شي، چې پرته له دې چې د یوې نسخې په لټون پسې سفر وکړي، د نسخې په اړه معلومات ترلاسه کړي.

په اساسي توګه د یوه ملت د هویت او تاریخي اهمیت پېژندنه ترهغه مهاله ناشونې ده، څوچې د علم او ادب لارویان، دیني فرقي او سیاسي حاکمان د هغه ملت لرغوني آثار او لرغوني لیکنیز آثار ونه پېژني او دا پېژندنه له خطي نسخو څخه ترلاسه کېدے شي.

همدغه خطي نسخې چې پخوا د کاغذ ترایجاد وړاندې کښلې وې د پېړیو په پوړیو کښې علم او پوهه انتقال کړې، چې مونږ ئې په چاپي بڼه لولو او د دې خطي نسخو کاتبان د وخت د مشین په څېر ځان ستړے کړے، څو ټولنې ته علم په ډېره ښه توګه وړاندې کړي.

خطي نسخې د بشري پوهنو د ټولو څانګو اصلي منابع دي . د چاپ د صنعت تر رواج مخکښې د بشري علومو او په هغو کښې د لیکل شوو کتابونو د خپریدو کار د همدې خطي نسخو او د هغو د خطاطانو په لاس سرته رسیدلي دي . د دوی نه ستړې کیدونکي تالاشونو پایلې اوس احساس کېږي، چې د نړۍ موزیمونه، کتابتونونه او څېړنیز مرکزونه په دې ډول آثارو ډک دي.

په پښتو ژبه کښې خطي نسخو باندې کار کول ډېر ضروري دے، ځکه همدا نسخې دي، چې د پښتو مړتاریخ ئې ژوندے کړے دے.په پښتو ژبه او ادب کښې د دې ژبې د خپل تاریخي هویت د لابډاینې لپاره اړتیا ده، چې په دې برخه کښې ډېر تحقیق او پلټنې وشي او د دې پلټنو په نتیجه کښې کېدے شي داسې څه ترلاسه شي، چې تراوسه چا نه وي موندلي . پایله کښې دې راشي.

## Bibliography


[1] Zalmay Hiwadmal, Interview at Academy of Sciences, Afghanistan, Date: 12 August 2019

[2] Zalmay Hiwadmal, Da Pashto Adabi Tarikh Manabiu Paizandana aw Arzyabi, Da Afghanistan Da Alumo Academy Zabu aw Adabiato Markaz, Pashto Tolana, 1367

[3] Raz Mohamad Wish, Pashto Kitab Shud, Pashto Tolana, 1337

[4] Anwar ul Haq, Zamong Qalami Nuskhay, Pashto Magazine, 1957, 1st edition

[5] Anwar ul Haq, Zamong Qalami Nuskhay, Pashto Magazine, 1958, 1-4 editions

[6] Anwar ul Haq, Zamong Qalami Nuskhay, Pashto Magazine, 1959, 2 edition

[7] Murad Shinwari, Zamong Qalami Panga, Pashto Magazine, 15 Oct-Sep editions, pp142-146, 136-140, 142-146, 161, and 1-4 edition, pp132-140

[8] Rahim Shah Rahim, Zamong Qalami Panga, Pashto Magazine, 1987-1988, 11-12th edition, pp 138-140

[9] Rahim Shah Rahim, Zamong Qalami Panga, Pashto Magazine, 1988, 9-10,11th edition, pp61-76

[10] D. N. McKenzie, Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of the British Isles, British Museum and Common Wealth Relation Organization, London, 1965, Pashto Translation by Anayatullah Mehrabi

[11] Sidiqullah Rishteen, Kabul Magazine, 3th, 5th, 6th, 9th editions, 1343, Pashto Tolana

[12] Sidiqullah Rishteen, Da Pashto Qalami Nuskhu Paizandana, Hewad newspaper, 14th edition, 1346, government prints, pp2

[13] M. Ibrahim Satuda, Abdul Rahman, Da Pashto 108 Qalami Nuskhu Paizandana, Da Kabul Pohantoon Kitabkhana, 1354

[14] Habibullah Rafi, Interview on 2/2/1398

[15] Habibullah Rafi, Pashto Magazine, 4-8th editions, 1988, pp48,51,53,55-58,60, Pashto Academy, University of Peshawar

[16] Zalmay Hiwadmal, Da Hind da Kitabkhanu Pashto Khati Nuskhi, Academy of Sciences Afghanistan, Pashto Tolana, 1363, pp4

[17] Zalmay Hiwadmal, Da Pashto Adabi Tarikh Khati Manabi, Pashto Tolana, 1366, pp16

[18] Zalmay Hiwadmal, Interview, Date: 28/2/1398

[19] Abdul Qadir Mushtari Haideri Najrabi, Fehrist-e-Nusukh-e-Khati Pashto, Arshief Mili Afghanistan, Jalalkot, Komita Dowlati

[20] M. Husain Tasbihi, Fehrist-e-Alafbaayee Nuskhahayee Khati Kitabkhan-e-Ganjbakhsh, Markazi Tahqiqat-e-Farsi Iran wa Pakistan, 2005, pp18

[21] Hanif Khalil, A catalogue of Pashto Manuscript in Pakistan, National Institute of Pakistani Studies, Quaid-e-Azam University, Islamabad

[22] Zalmay Hiwadmal, Pa Kabul ki da Yaw Jor Shawi Kitabkhani da jorshawyo Khati Nuskhu Fehrist, Shamshad Magazine, 1-2 editions, 2000-2001, pp94-116

[23] Nasim Arif and Abdul Hamid, Muqadima Dr Salma Shaheen, Fehrist-e-Makhtotat, Pashto Academy, Unversity of Peshawar, 2011, pp3

[24] Sangarwal Shasawar Naizai, Da Britania Pa Kitabtononu ki da Pakhto Qalami Nuskhu Paizandana, Afghan Adabi Jirga, London, 2011

[25] Sharifullah Dost, Da Afghanistan Da Alumo Academy Da Pashto Khati Nuskho Tahlili Serana, 1397, pp24